بايد منصفانه قضاوت وشي منصفانه قضاوت وشي چه دخلکو در وابطو دمحکمو او مطمئن ژوند د برابرولو د پاره اسلامي اخلاق، صلحه رحم او عاطفه او بی الايشه مرستې ترکومې اندازې پورې حياتي که قيمت او ارزښت لري.

پدې اساس د اسلام مقدس دين وروسته لدې څخه دوظايفو معقول متين او طبيعي فورمولونو يې خلکو ته وضع کړي او ښودلي دي: دخلکو مکلفيت اوپه خپلو فردي او اجتماعي وظايفو باندې عمل دهر چا د توان او قدرت سره برابر اعلان کړی دی لکه چه الله (ج) فرمايي:
«**لايکلف اللهُ نفساً الاوسعهاُ**» يعني الله پاک څوک په کوم کار مأمور کړی نه دی مګر دهغه د وسې او طاقت په اندازه او په دې آيهٔ مبارکه کې: «ليس الانسانُ الاما سعی» يعني انسان لره د ده د سعې د اندازې څخه زيات اجر او مزد نشته. په دې اساس د خلکو دمکلفولو څخه وروسته بايد کار او عمل او موفقيت د نظر لاندې ونيول شي، او دخلکو مکافاتونه د کارونو دانجامولو په توازن د نظر او تطبيق لاندې شي.
البته دکار په کيدو او نه کيدو کښې د مکافات او مجازات تطبيقول بايد ډير دقيق وي ځکه چې له همدغه ځايه د اجتماعي بنسټ دتقويه کيدو او يا نړيدو مواد برابريږي.
مونږ داسلام په مقدس دين کښې ګورو چه انسان په پوره تائيد دعمل او کار په خوا دعوت شوی لکه چه الله پاک فرمائي:
**« اعملوا فسيری الله عملکم ورسوله والمؤمنون »** کار اوعمل وکړئ خدای پاک پيغمبر صلی الله عليه وسلم او ايمان داره خلک د تاسو کارونه ګوري. الله تعالی بيا فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**«انالانضيع اجرمن احسن عملا »** داوعده ده چې فرمائي:ـ مونږ د ښوکارونو دکونکو اجراو مزد نه ضايع کوو.
اسلام دجائزعيش اودپاکي روزي دلاس ته راوړو طرفداري کوي اومؤيد يې دی.
الله پاک خپل پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته فرمائي: **« قل من حرم زينة الله التي أخرج لعباده والطيبات من الرزق »** ترجـمه: ته ووايه ورته چه دا پاک رزقونه خوراکي مواد او د دنيا د ښايسته او زينتی شيانو څخه روا اوجائز استفاده چا په خلکو باندې حرامه او بنده کړې ده. يعنې د اسلام په دين کښې دپاکې روزي دلاس ته راوړلو دجائز عيش او نوش او ښايسته شيانو څخه جائز نه استفاده منع نه ده او نه د چا لاس او وسايل له دې څخه بند شوي دي چه خپل حياتي شيان لاس ته راولي.
لکه چې فرمايی :. **«اِعْمَلْ لِدُنْيَاكَ كَأَنَّكَ تَعِيشُ أَبَداً وَ اعْمَلْ لِاٰخِرَتِكَ كَأَنَّكَ تَمُوتُ غَداً»** ددنيا دپاره داسې قوي اوپاخه کارونه کوه لکه چه د تـل دپاره ژوند کوئ او د آخرت او عواقبو خيال دومره قوي ساته لکه چه سبا مرې او د عواقبو سره مخامخ کيږئ.
حضرت محمد صلی الله عليه وسلم په دې روحيې فرمائي .« که رسی واخلې لرګي وکړئ او رائی وړې اوخرڅ يې کړې اوله دې لياري څخه روزي په لاس راوړې دا درته له دې څخه ښه ده چه سوال او ګدائي وکړې، څوک څه درکړي او که نه.»
فرمائي څوک فرمايي :« اليد العليا خير من اليد اسفلی» پاسی لاس چه چاته څه ورکوي د لاندې لاس څخه کوم چه خيرات دربانديې اخلي بهتر دی. په بل ځای کښې فرمائي « المؤمن القوی خيرٌ مِن المؤمن الضعيف» قوی مؤمن له ضعيف مؤمن څخه يعنی کاری مسلمان دبيکاره مسلمان څخه ښه دی.
حضرت عمر فاروق (رض) فرمائی :« بايد يو د تاسو هم دروزی د پيدا کولو څخه غافل اوبې پروا نشي، حال دا چه بې کاره خلک په دې پوهيږي چه د آسمانه خوچاته سره اوسپين زرنه اوري»
مونږ ګورو چه مسلمانانو په حساب الجبراو هندسه کښې ډېر پرمخ تک وکړه او خوارزمي په مسلمانانو کښې هغه څوک دی چه دالجبر فارمولونه يې اختراع کړل ، او لاتين ته ترجمه شو اود اروپا په پوهنتونو کښی ترشپاړسم قرنه پوری ور څخه استفادې کيدلې چه تراوسه لاد الجبرفارمولونو په الجبر ياديږی.
وروسته بيا دغه کتاب ټول او ياڅه برخې په مختلفو ژبو ترجمه شو. مسلمانانو دالجبر فارمولو نه تحليلی هندسې د پاره اساس وګرځول چه ترننه ورڅخه استفادې کيږي. راځئ تاسو د « ابن الهشم » دهندسې په بحثونو کښې مطالعه وکړئ. چه دې څنګه مکعبي معادلې په مخروطي ټوټو مېنځ ته راولي. اود مساحه په حقله دده ابتکارات څومره ارزښ لري.
دمأمون خليفه په عصر کښې د طول البلد درجې وښودلې د بطيموس خطاوې اصلاح کړې و ډيری رصدخانې جوړې او مجهزې شوې او د ارتفاع مقايس مينځ ته راغلي او اسطرلاب جوړ شو ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

دستورو او نور ته په خوا توجه د آبی العباس الفرغانی د مد خل د کتاب څخه وروسته پیل شوه. ددغه کتاب په کال ( 1235 هـ. لمریز) کښی یو خااشبیلی په لاتین ژبې ترجمه کړو او د ابي ريحان البيرونی مساعی دستورو د معلوماتو په حقله د ستايش وړدي. خوارزمي زيج او تقويم البُلدان په واسطې حیرانیدونکي ابتکارات وکړل.
دطب او دواء جوړولو په حقله کې د ابن سینا د (القانون) کتاب او د رازی تألیفات ترننه پورې ددنیا دخلکو توجه جلبه کړې ده او په اروپا کښې نن هم دابن سینا ( القانون ) کتاب ته دطب چینه ویل کیږي. او هلته زیات د پنځلسو وارو څخه چاپ شوی او په مختلفو ژبو اوښتی دی. په کیمیاء کښې دجابرجهان اورازی اکتشافات ترننه پوری د وظیفه پیژند لو ثبوت ورکوي چې د فخر وړدی.
خلاصه داچه داسلام د روښانه زروکار ونه او اختراعات او اکتشافات زښت زیات او د واقعي مسلمانانو حرکت او پرمخ تګ لکه چه رنیان فرانسوی مشهور فیلسوف وایي دعلم مدنیت اوادب حرکت او پرمخ تګ پوره شپږ قرنه دمسلمانا نو په لاس کی وه او په دی برخه کې مسلمانان داروپا استاذان دی . «سعید افغانی»

## حس خیر

حس خیر باید در جوامع ترزیق و تقویه شود. پیوند اجتماعي به اساس تأمین منفعت بمیان میاید، اما اغلب خواهان تامین منفعت ایم.
ولی؛ هرگاه تأمین منفعت به تنوع خود به حس خیر خواهی گوناگون، سره و کره نه گردد با انحرافاتی مواجه میگردد. بنآ درانجام هر کار و هم در شروع آن باید حس خیر در نظرباشد.
حس خیر شوق و ذوق را تحریک مینماید و موجب فیض و برکت میگردد ، هسته خیر در افکار صالح نشو ونمای خوبی دارد و حتی باندازه ئی میرسد که بعضی رجال بزرگ خیر خواه ، خیر را تنها برای تامین خیر میخواهند و از انجام اعمال خیر به د یگران ، چنان لذتی میبرند مثل انکه بخودش خیر رسیده باشد .
جوامعیکه در آن احساس خیر ضعیف میگردد به بدبختی های گوناگون مواجه میگردند ، که مبدا همه تباهی های اجتماعی از ضعف احساس خیر شروع میشود و در صورت عدم جلوگیری معقول از آن منجر به خطرات مدهشی ، چون انحلال جامعه میگردد.
بنآ وظیفه مردم و خاصتآ رهبران اجتماعی اند که در تولید احساس خیرمساعی جمیله را بخرچ دهند و احساس تامین منافع را ولو به هرقسمیکه باشد بی جلوه نه گذارند .
اگر احساس خیر باشد ، تعا ون و تساند صورت میگیرد و اگر تعاون و تساند دوامداری را داشته باشیم ، باید عصیره و به شیوه احساس خیر مختلط گشته و از آن برایش آب و رنگ داده شود .
تطهیر نیت و پاکی فکر و اندیشه که برای بمیان آمدن آن رجال بزرگ اجتماعی کار کرده اند بمنظور آن است تا احساس خیر بمیان آید ، پس باید اولآ تطهیر فکر و بعد از آن تعمیر فکر و یا بهتر بگویم :

(c) ketabton.com: The Digital Library

اولاً احساس خیر و بعد از آن انجام اعمال خیر !
احساس خیر انسان را اصلاح ساخته ، تحکم و تسلط بر نفس را بمیان میاورد .
تعلیم و تربیه باید به اساس منظورو مدنظر مواد و میتود های احساس خیر شروع و در هر رشته آن باید به اندازه ضرورت از احساس خیر کار گرفته شود و در هررشته آن باید به اندازه ضرورت از احساس خیر کار گرفته شود .
تولید احساس خیر باید در انسان از مرحله طفولیت شروع گردد و در مورد استعمال اندازه آن باید رجال بزرگ و استادان تولید احساس خیر را سنجش و دقت نمایند .
باید کوشش شود که شر به نظر مردم خیر جلوه نه کند و از آن دسائیس برحذرباشیم ، عده ئی از مفسدین و تباه کاران اجتماعی احساس شر را بنام احساس خیر تلقین میکنند ، خیر را باید در مقیاس و معیار تامین منفعت عامه سنجش نمائیم و در عمل و پرکتیک نشان داده شود که چطور میتوانیم منفعت عامه را تامین نمائیم .
بسیار باید دقت نمود که اعمال خیریه کدام اند ؟
بسیار باید سنجید که خیر چطور بمیان آمده میتواند ؟
بسیار باید غور کرد تا در دقت و سنجش خویش راجع به تعین خیر و استعمال اندازه آن خطا نشویم !
هر چیز بخود حد و اندازه دارد که به این اساس اعتدال هر چیز اندازه خوب را نشان میدهد و به آن خیر باید گفته شود و افراط و تفریط در آن بد و به آن شر باید گفته شود .
موسسات خیریه وظایف بس سترگی دارند تا در انجام اعمال خیریه علما و عملا مساعی جملیه را بخرچ دهند و به آن عوامل جدا متوجه که موجبات تباهی و بدبختی واقع میگردد .
برای بمیان آمدن صلح و آرامش درمنطقه و جهان اشد ضرورت به تقویه موسسات خیریه می باشد بنآ ! موسسات خیریه در دنیا به هر نامی که باشد اعمال شرافتمندانه انسانی را انجام مینمایند و سرمایه مشترک همه بشر را تشکیل میدهند ، پس همه باید به آن امیدواری داشته و در انکشاف آن باید صادقانه کوشید .
نامهای بد ، بد و کارهای بد ، بد اند !
نامهای خوب و کار های خوب ، خوب اند !
از این جهت است که نامهای خیر، تامین منفعت عامه ، صلح، سلم ، تعقل ، تدبیر، منطق ، استدلال، حسن تفاهم، تعاون ، تساوند و دست یاری ضعیفان و مصیبت زده گان را مردمان جهان دوست داشته و به آن امیدواری دارند.
بنام خیر باید از خیر دفاع نمود ؛ و مردم را با انجام اعمال خیر تشویق کرد و خاصتآ به رنج رسیدگان یاری و مساعدت نمود.
اگر خیر را دوست و گرامی داشته باشیم باید با آنانیکه در راه خیر میکوشند بمال و جان مساعدت نمائیم و با آنها موقع دهیم که در راه خیر پروگرام

(c) ketabton.com: The Digital Library

های خویش را بهتر و خوبتر تطبیق سازند تا موسسات خیریه روز به روز بهتر و بهتر تر سرو صورت گرفته ، احساس خیر با اندازه کفایت و ضرورت انتشار یابد .
از برکت و مساعی جمیله انبیا ، رسل ، فلاسفه ، رهبران و زعما بزرگ ، علما و دانشمندان احساس خیر تولید و انتشار یافته و به برکت تولید انکشاف احساس خیر ، اجتماعات و مدنیت های پشرفته و روبه انکشاف صورت و موجودیت داشته ، اختراعات و اکتشافات مدنی و اجتماعی بمیان آمده و میایند .
تا وقتیکه احساس خیر موجود باشد ود تطبیق و تعمیل آن کوشش دوامدار و منطقی صورت گیرد ، امکان بقا و دوام جهان دیده میشود و در صورتیکه فقدان مواد خیر؛ همه جهان حتمآ به تباهی و قیامت مواجه میگردد.
بنآ وظیفه اساسی همه صلح خواهان جهان است :
تا در مورد تقویه احساس خیر و تعمیل کردار خیر، اهتمام و عنایت داشته باشند.

داکترمحمد سعید « سعید افغانی »

سال ۱۳۵۲هجری شمسی ـ کابل

## دعشق او محبت دین:

داسلام مقدس دین دعشق ، محبت او جذبې دین دی. ددغه دین اساس اوبنسټ یو تربله دمینې، ګذارې، مرستې، تعاون، ښواخلاقو، عفوې ،صلې ،صداقت او اخلاص په مبادیو دررول شوي دي.
ښځنګه چه داسلام اساسي لیار ښوونې دعمومي ګټو د تأمین راز لري همدا شان حقیقت دا دی چه جذبی پیمانی د اسلام په اوله دوره کښې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او دده ربښتینو ملګرو د خلکو په زړونو کښې دعشق او محبت جذبات او د اخلاقي مبادیو د عملي تقوی درسونه واچول. کوم وخت چه سړی د سیرت، احادیثو او اسلامي تاریخ او د شرعي علومو اصلي تعلیمات د مطالعي اودقت لاندې ونیسي دا وخت سړی پوهیږي چه داسلام لمړنیو او رهبرانو څه غوښتل.
آرمان آرمان ډیر تأسف دی چه د اسلام دغه رنګه لارښووني د زما نې په مسیر او تحول کښې د یو رنګه داسې عناصر و د لوبو کولو مورد وګرځیدلې کوم چه د هغوی سره واقعاً هیڅ د اسلام دمقدس دین بوی هم نه احساس کیده.
پلیدو عناصر و د اسلام په نامه د لعنت نه ډک کارونه وکړل. دوی د اسلام څخه ناوړه استفادې وکړې او د اسلام په نامه یې په زرګونه معصوم انسانان تیر ویستل. دغو عناصرو په داسې حال کښې چه قسم په خدای یې له ظاهری دلسوزی او غدر بل نور هیڅ د اسلام څخه کوم معلومات نه درلودل، د خلکو پام او توجه یې ځانله واړوله او په هیلو او پلمویې د مسلمانانو د مدنیت قافله په قرنو قرنو بیرته وغورځوله. دغو په پایله کې دې ته ورسیده چه ډیر کسان د اسلام په دین باندې بد ګمانه شول. او که مونږ واقعاً د اسلام اساسی لیارښوني او د اسلام د واقعي رهبرانو سلوک په پوره عمیق ډول د مطالعي لاندې ونیسو هغه وخت په دې پوهیږو چه د اسلام مقدس دین تر کومې اندازې د بشر د دایمی سعادت

(c) ketabton.com: The Digital Library

متکفل او تر کومه حده دغه مقدس دین د عشق محبت اخلاص او جذبې دین دی چه د واقعی عمل په صورت کښې د روغی او سلامتیا ضامن او انساني روابط تقویه کوی.

## فساد او تباهی:

**«ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ »(الروم 41 ) (انسان** د خپله لاسه په براو بحر کښې د فساد او تباهی موجبات برابر کړي دي. حقیقت دا دې چې انسان که له عدالت، صلی، عاطفي او متانت څخه کار اخیستی وي داسې به نه وو شوی لکه چې وشول او داسې به نه وای لکه چې دي. په ډیر تأسف باید ووایم چې د انسان د فسادونو او تباهیو داستان ډیر اوږدوالی لري.

څه فساد او تباهی نه وه چه ونه شوه.

هغو. دا، دا ... او داسې نور په زرهاو دا.

څومره چې تجربې او بیا بیا تجارب زیاتیږي هغومره بیاهم عبرت لږ او لغزش روان او جاري دی او هسې تش په خولې وچ ندامت او پښیماني فایده نه کوي.

د ساده خلکو ملامتي سادګي ده او د پوهو خلکو ملامتی تعنت او کج روي ده.

د صالحو انسانانو شمار محدود او لږ دی او د فاسدو خلکو طغیان بې پایانه ښکاري.

د حق او باطل مجادله روانه ده. کله حق پر باطل او کله باطل پر حق غالبیږي. رښتیامنم چې حق غالبیږي خو که د حق په لیاره باندې تګ ښه معقول تنظیم شي شاید هغه وخت به ښه تنظیم وي چې قرآن کریم فرمایی: ( قل جاء الحق و زهق الباطل اِن الباطل کان زهوقا) ووایه: ای محمده! حق راغی باطل محو شو، باطل ضرور محوه کیدونکی دی.

مونږ یو دقیق حساب او د اوضاعو تحلیل ته اړتیا او ضرورت لرو تر څو وکړای شو چې د فساد او تباهی اصلي موجبات معلوم کړو چی څه او د اصلاحاتو لپاره په دې پوره غور وکړو چې اساسی لیاره کومه او څنګه ده. په دې توګه او له دې وروسته ټاکلی او ټکولی پروګرام په کار دی چې باید تطبیق شي او په متداوم ډول تنقیح او تعقیب شي.

په نظري حساب ټول پوهان په دې متفق دی چی د انسان پیژندنې کار د اجتماع جوړولو لپاره نهایت ضروري دی خو متأسفانه چې په بیرته پاتې هیوادو کې دغه کار ډیر کُند دی او په تحمیلی ډول کُندیږي. په دې حساب د بیرته پاتې هېوادو او ممالکو اساسي وظیفه او نده داده چې د دغه شانې کُندیو پوره چاره وکړي تر څو د نورو په زړه پورې اصلاحاتو لیاره هواره شي.

شک نشته چې عمومی صحنه د اصلاحاتو په خوا زیاته شوې ده خو د اصلاحاتو د تشخیص لپاره زمونږ په روان متناقض ذهنیت کښې سلیم تفاهم ته زښت زیات ضرورت احساس کیږي چې باید د پوهې او قدرت خاوندان په دغه خوا جدي پام او توجه واړوي او د خلکو تر مینځ د ښه تفاهم شکیدلي تارونه او مزي په عاملانه ډول بیرته وتړي او یا د تړلو مزو، د تقوئې لپاره په پوره حوصلې موثر کار، زمینه سازی او خدمت ترسره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اسلام څه شی دی؟

اسلام او نوي علوم په یو حدیث کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت دی:
« المسلم من سلم الناس من لسانه ویده» په بل حدیث کې راغلي دي: « المسلم مَن سلِمَ المسلمونَ مِن لسانهِ ویدهِ» په دې اساس
مسلمان هغه دي چه په چا باندې په وینا او عمل کې تجاوز نه کوي.
مسلمان چاته بد نه وایي تجاوز نه کوي او ګناه بده ګڼي.
مسلمان په عدل، صلی او نیکو کاری باندې امر کول او د ټولو ناوړه رویو او بې حیایی څخه اجتناب او خلک منع کوي. د نحل په سوره، ۹۰ آیت کښې راغلي دي: « ان الله یأمُرُ بالعدلِ والاحسان وایتآ ذی القربی و ینهی عن الفحشاءِ و المنکر و البغی یعظکم لعکم تذکرون» الله پاک په عدالت او له دو ستانو سره مرستی پرمتعلق امر کوی او بی حایی ، ناوړه کارونو او تجاوز څخه ممانعت کوي. دا نصحیت د دې لپاره کوي چه خلک پند واخلي همدا ډول پوه و پاک مسلمان کار او عمل کوي مکر خپل ټول کارونه الله پاک ته د عواقبو او نتایجو په لحاظ سپاري.
الله پاک ( د الزمر په سوره، ۵۴ آیت) کښې فرمایي «**و أَنِيبُوا إِلَى رَبِّكُمْ وَأَسْلِمُوا لَهُ** » او د ال عمران په سوره، ۲۰ آیت کښې فرمایي « **قُلْ أَسْلَمْتُ وَجْهِيَ لِلَّهِ**» خپل پروردګار ته رجوع وکړل حضرت محمد صلی الله علیه وسلم وویل پاک الله ته انقیاد وکړئ.
او هغه ته مې خپل هرڅه سپارلي دي ابن هشام په سیرت کې جعفر بن ابی طالب د اسلام او جاهلیت په مېنځ کې فرق واضح کړای دی. په خپله هغه وینا کښې چه نجاشي ته یې دهجرت په وخت کښې کړای، دی وایي: زمونږ قوم به د جاهلیت په وخت کښې د بتانو عبادت کاوه، شراب به مو خوړل، بې حیایي ګانې به مو کولې، د خپلو او دوستانو لحاظ به مونه ساتی، د همسایه ګانو حقوق موهیر کړي وه او د قوت خلکو به د ضعیفانو مالونه خوړل. مونږ په همدغه رنګه ناوړه مرضونو تر هغه وقته مبتلا وو ترڅو چه مونږ ته الله پاک زمونږ د جنس څخه پیغمبر راولیږه. دا پیغمبر چه مونږ یې په راستی او امانت او پاکی پیژنو دغه پاک او سو چه پیغمبر مونږ( الله پاک وحدانیت او عبادت ته وبللو دغه پیغمبر مونږ د کفر او بتانو د عبادت څخه لکه چه پلرونه موکول منع کړي یو مونږ ته د ریښتیا ویلو په اداء کولو امر کړای او د ناروا کارونو او وینې تویولو نه مو رامنع کوي او د بې حیایی، دروغ ویلو، د یتیم د مال له خوړلو او په پاکو او دده سره هیڅ په عبادت کښی شریک نه مني. دی مونږ ته د لمانځه په اداء کولو، د ذکات په ورکولو او د روژی په نیولو امر کوي. مونږ د دغه پیغمبر تصدیق کوو او ایمان مو پرې راوړه.

## اسلام او نوي علوم:

اسلام د ادب او د اخلاقو دین دی. څومره چه د اسلام د مقدس دین په اړه او متعلق د نویو علومو د انکشاف توجه او بنتی، هغومره دا حقیقت روښانه شوای دی، چه اسلام بنه د ادابو او اخلاقو او تربیي دین دی. په دغه مقدس دین کښې د ټولو طبقاتو او اقشارو حقوقو تأمین او محفوظ ساتل شوي دي. دغه دین کې یو تربله د متقابل احترام ساتلو او بنه سکوک

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پاره ډېر پاخه او قوي اساسونه وجود لري. په دغه دين کښې د اقرباو سره د صلې او علاقې باره کې رمزونه شته او د دوستانو او آشنايانو سره د مينى په لياره د کډو اهدافو مېنځ ته راوستلو د پاره په کښې قوي رازونه موجود دي. د اسلام مقدس دين د عمومي اوضاعو او دعامو خلکو سره د ښه ژوند کولو ، قوى خيال ساتلاى دى او د يو مکمل ادبي او اخلاقي ژوند د برابرولو لپاره په کښې پاخه اساسونه شته دي. داسې اساسونه، ادب او اخلاق چه د اسلام په مقدس دين کښې په ټول کم او کيف سره د خلکو د خير او سعادت لپاره ليدل کيږي. دا قوت په دغه برخه کې په بل هيڅ کوم دين کښې په لاس نه راځي. د پلار او د مور د حقوقو لحاظ ساتل د مشرانو احترام ، دلويانو قدر او تعظيم، وروروسره صله او عاطفه، د ملګرو سره صداقت، د همسايه ګانو سره ښه سلوک او ګذاره د عاجزانو سره مرسته او تعاون، د مصيبت او تکليف په وخت لاس ورکول، د خوراک او څښاک نورو حياتى مسايلو کښې اعتدال، عمومي حقوقو د تقويې لپاره خاص پام او توجه او داسى نورو اداب او اخلاق د اسلام په دين کې په نظر کې نيول شوي دي. دغه اصول او اساسات د اسلام مقدس دين کې هيڅ کله ادبى او اخلاقى اعتبار له لاسه نشي ورکولاى. په اسلام کښى د نفرت، عداوت کينې او حسد ټولې ريښې ايستل شوي دي او دين د محبت او همکارى د تأمينولو لپاره پوره پوره توجه کړې ده.

اسلام د کبر او غرور سره مجادله کړې ده او له دغې لياره ځخه غواړي چه خلک دو رورولۍ او برابرۍ په فضا او ماحول کې ژوند وکړي.

د اسلام په مقدس دين کې د عفوى او ګذشت او د بيا بيا پيوندلو لپاره لیارښونې او زياد تشويق وجود لري. د اسلام مقدس دين د دى لياره ځخه غواړي چې اجتماعي شيرازه بايد قوي وساتله شي. په اسلام کښې د خبرو او وينا لپاره حدود معلوم شوي دي او د ژبې د اصلاح کولو لپاره پوره توجه او پام شواى دى.

د اسلام مقدس دين د علم او پوهنې لپاره عمومي پام او توجه اړولې ده او د عقل او دليل له لیارې ځخه غواړي چه خلک خپل ژوندون نه ښه ګټه پورته کړي او استفاده وکړي.

اسلام کوشش کړاى دى چه د خلکو مدني، اقتصادي، سياسي ، ثقافتي، ادبي او اخلاقي ژوند په داسې پايو اتکاء ولري چه هغه د انسان اصلي د طبيعت او استعداد سره برابر او د عمومي مصالحو د تأمين لپاره مفيد واقع شي.

اسلام د وهم، وسواس او بى مورده ګمانونو طرفدارنه دى او د پوره دقت پرلياره کې غواړي چه حقايق روښانه او د خلکو حياتي مشکلات لرې شي.

اسلام د عفت ، تقوى پاکي او نظافت طرفدار دى، غواړي چه د خلکو ژوند په ظاهر او باطن کې پاک او سوچه وي.

اسلام د اِسراف او تجاوز طرفدارنه دى. غواړي چه خلک دې بايد په هر څه کښې د اعتدال لحاظ قوي وساتي.

اسلام د غدر او خيانت سره مجادله کړې ده، غواړي چې خلک دې يو تر بله د تکاليفو او مشقت موجب ونه ګرځي. نو په دى اساس که څوک د اسلام مقدس دين تر پوره عميقى مطالعى لاندى راولى د ادب او اخلاقو کامل او مکمل دى او د هغه څخه په استفادى سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ننیو علومو په اساس د حقیقی او واقعی ژوند برابرولو لپاره پوره اړزښت لری.
راځئ چه مونږ د اسلام د دین دادابو او اخلاقو څخه اول ځان پوره واقف کړو تر څو وکړای شو دځان او د خلکو د سعادت په لپاره کښې د ښو خدمتونو مصدر وکرځو.

**و من الله التوفیق**

## حساسې او مثالي هڅې او هیلې!

هیر به مې نشي چې په خوب ویده وم د وطن او جهان د هڅو او هیلو سره آشنا نه وم. زما سره یوازې د خپل ځان او د یو وړوکي کور او فامیل د ژوند سودا وه. خو په ورو ورو زما د ذهن او فکر د افق ساحه ارته شوه تر داسې اندازې چې اوس خپل ځان راڅخه ورک شو. ځان په ټولنه، جامعې او جهان کښې ګورم او په هیڅ شي بې د عمومي منفعت او ښیګڼو د تامین په مفکورې او حرکت نشم تسکینیدلای. باور وکړئ چې فکر، سودا، خیال او هوس مې د خلکو د ژوند د جوړیدو په پردو کښې چلیږي.
زه وړوکی یم خو دنیا مې لویه او پوره ارته ده.
زه بیچاره یم خو همت مې د ټولو بیچاره ګانو او ملت ته د چارې د پیدا کولو ټکل لري.
زه د عمر په دې شیبو کښې هم دلته د نوي دنیا د جوړولو په کار کښې د ځوانانو سره اوږه په اوږه قدم پورته کوم اوانشاء الله زما د کار تولید د چا څخه لږ نه دی.
زه د راتلونکي زیاتي ړڼا د راتلو په امید د شور څخه ډکي هڅې او هیلې لرم او په دغو هڅو او هیلو کښې د خپل موجودیت د ساتنې خیال ساتم.
زه د مرګ څخه نه ډاریږم او نه د مرګ څخه ډار زما په تصمیم باندې منفي تأثیر اچولای شي خو د هغه مرګ څخه په ویره کښې یم چې زما د پاکو هیلو او هڅو په مخ کښې خنډ پیدا کړي او یا د وطن دښمنان موجوده په زړه پورې فرصت له مینځه یوسي.
زه د ځان لپاره څه نه غوارم.
نو راځئ دا چې څه لرم هغه دې هم د ستاسو وي، راځی ماته هیڅ مه راکوئ، راځئ دا زما کنډاو کچکول هم واخلئ خو ما پریږدئ چې په پوره اعتماد او اطمینان د ستاسو د ښیګڼو د تأمیندو په لپاره کښې قربان شم.
زه که قربان شوم په ما ځلی هم مه دروئ اونه مې یاد کړئ، خو چې که زه د حق لپاره کښې ځار شم دا به زما د زړه د تسکین لپاره لوړ مقام او منزلت وي.
هیر به مې نشي هغه وخت چې زه هڅو او هیلو وپاروم. زما دغه هڅې او هیلې د وطن د آبادی او آرامی لپاره وې خو همدا چې په عمل او اقدام به مې لاس پورې کړ نو بیا به پټو او ښکاره معلوم الحاله لاسونو زما په مقابل کي خنډونه پیدا کړل او داسې ناروا تعبیرونه به یې مینځ ته راوستل چې سلیم تعقل به ورڅخه کرکه کوله.
هغه وخت تر ډیر وخته به ما د ځان سره ویلې چې دوی نه پوهیږي او یا نه غواړي، خو وروسته د ډیرې تجربې دا راته ثابته شوه چې نه غواړی او زمونږ واک که څه هم واک وال ښکاریږي زمونږ په واک کښې نه دی. د پردې شاته څه داسې لاسونه کار کوي چې په عاملانه ډول د تل لپاره مونږ بدبخت ساتي. دوی زمونږ بازارونه د خپلو پخو مالونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلورنځی ګرځوي او زمونږ خام مواد په ارزانه بیه لاس ته راولي.
هیر به مې نشي چې په اتمي دورې کښې زه د شوراء د پارلمان لپاره خپلې حوزې څخه کاندید شوم، ډیرې هلې ځلې او هڅې مې وکړې، هلته خلکو راسره ډیره مرسته وکړه، د رایو له پلوه پوره موفق وم خو دولتي قدرت پرې نښودم چې شورا ته لارشم. یوه ورځ داسې وشوه چې په یوه غونډه کښې والی صاحب وویلې:
زه ملامت نه یم ماته له پاسه خوا هدایت شوای دی چې ته په دې دورې کښې موفق نشي او پارلمان ته لار پیدا نه کړي. علت دا چې ته ښکاره تنقید او پاروني کوې او د دولت د نقشو په مخ کښې خنډونه پیداکوې. ما ورته وویلی د ستا له دې صراحت څخه مننه او تشکر خو افسوس چې دولت ولې د خلکو د فریب او دوکې له پاره داسې ښکاره کړی ده چې شورا ته د خلکو استازي او نمایندګان ورځي او ورڅخه ملي شورا اوملي پارلمان جوړیږي.
سعید افغانی

## د انبیأ او رسولانو اهداف څه دي؟

اسلام او نوي علم!
انسان که څه هم ورته زیات علم او حکمت ورکړای شي مګر بیاهم د الله (ج) علم ته نشي رسیدلای بلکه همیش بې له دې چه خدای پاک یې پرې پوه کړي په بل څه نه پوهیږي.
همدا وجه ده چه الله سبحانه و تعالی د خلکو د لیارښوني لپاره رسولان واستول ترڅو دوی ته هغه حکمت او پوهنه وښیي چه دوی پرې نه پوهیدل. الله(ج) د بقرې په سوره، ۱۵۱ آیت کښې فرمایي : « كَمَا أَرْسَلْنَا فِيكُمْ رَسُولاً مِّنكُمْ يَتْلُو عَلَيْكُمْ آيَاتِنَا وَيُزَكِّيكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُم مَّا لَمْ تَكُونُواْ تَعْلَمُونَ » ( لکه څنګه مې چه په تاسو کښې رسولان لیږلي دي همدارنګه دوی لولي پر تاسو باندې زما آیاتونه او تاسو د ناوړه اخلاقو څخه پاکوي تاسو ته کتاب او حکمت دربښي او د هغه شیانو ښودنه درته کوي چه تاسو پرې نه پوهیدلی.)
او د ال عمران په سوره، ۱۶۴آیت کښې فرمایی:**« لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِي ضَلل مبين )** (هر آئینه په مؤمنانو باندې الله(ج) احسان کړی دی چه په دوی کښې یې د دوی د نوعې څخه رسولان استولي دي، لولي پر دوی باندی دده د احکامو آیاتونه، د ناوړه زمیمه اخلاقو څخه یې پاکوي او د آسماني کتاب او حکمت لیاره ښوونه ورته کوي. که څه هم دوی پرخوا پر ښکاره ګمراهی کې وو.)

## د آسماني ادیانو پرله پسې راتلنه:

د میتولوجي او قیصو علم ثابتوي چه کوم هغه اسباب چه د هغو له مخې څخه پخوانیو د ابو البشر او ابلیس عبادت کولو، په واقع کې دا د پخوانیو ادیانو قیصو او خرافاتو ته رجوع کوي. دا علم وایی د کوم وخت څخه چه انسان پیداشوای دی، دېر لږ ځنډ روسته ادیان هم ورسره یوځای پیدا شوي دي. کله چه انسان احتیاج د نوي شي غوښتنه وکړه او پروردګار ورته یاد شو نو دا وخت الله پاک رسولان او انبیاء واستول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تأریخ مونږ ته بیانوي له کوم وخت څخه چه الله(ج) ادم پیداکړه، ادیان هم له هغه وخت څخه پرله پسې راغلي او د وخت د احتیاجاتو سره برابر نازل شوي دي. څومره چه دغه ادیان ګورئ د دغو ټولو آسماني ادیانو هدف الله(ج) ته رجوع او د نیک عمل په خوا بلنه ده.
الله(ج) د الانبیأ په سوره، ۲۵آیت کښې فرمايي: « **وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ** »( مونږ نه دي لیږلي په خوا له تا څخه کوم پیغمبر مګر وحی ورته شوې ده چه نشته بې الله(ج) پاک څخه بل د عبادته وړ. نه دده لپاره عبادت وکړئ.)
الله(ج) فرمایی:
« إذ جاءتهم الرسل من بين أيديهم ومن خلفهم ألا تعبدوا إلا الله »( کافرون 14 )( کله چه د دوی تر په خوا او وروسته پیغمبران راغلي دي نو وویلی چه بې د الله پاک څخه د بل چا عبادت ونه کړئ.)
د مؤمنین په سوره، ۳۲ آیت کښې فرمایی: « **فَأَرْسَلْنَا فِيهِمْ رَسُولًا** مِّنْهُمْ أَنِ **اعْبُدُوا** اللَّهَ **مَا لَكُم** مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ » (بیامې دوی کښې د دوی د نوعې څخه پیغمبران ولیږل ترڅو ووایې د الله عبادة وکړئ او بې له ده څخه بل الله نه لری.

**دمرحوم مولانا دوکتور محمد سعید « سعید افغانی »**
**له لیکنو څخه څو غوره شوې مقالې ©**
لمړی چاپ داسلامی شوونو او قافو وزارت له خپرونوڅخه
دچاپ شمیر:۲۰۰۰
دچاپ ځای : دآریانا مطبعه ، کابل افغانستان ۱۳۶۹ لیږدیز لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم چاپ
دحق د لارې کلتوري مرکز
جرمني ـ د ۱۳۹۴ هجري شمسي کال د حوت ـ کب میاشت
(۲۰۱۷ زیږدیزکال د فبروري میاشت)©

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**